# د پایلو ملي مرکز د فعالیتونوطرزالعمل

## د ۱۳۹۳ د ولسمشرۍاو ولایتي شوراګانو ټاکنې

## سریزه

د ولسمشري او ولایتي شوراګانو ټاکنو د رایو شمېرل، ترلاسه کول،ثبت او د پایلو رسمي اعلان به د ټاکنېز بهیر خورا مهمه برخه وي. د رایو شمېرلو، د پایلو د ترلاسه کولو او ټولو ټاکنېزو توکو د مفصل طرزالعمل په اړه به  په بل ځای کې خبري وشي. اړینه ده چې ترلاسه کول، ثبت او شمېرنه، څېړنه او د ټاکنو د پایلواعلان د یو واضح طرزالعمل له مخې چې ډېر دقیق، روڼ او پر وخت وي، ترسره شي. داسند دا طرزالعمل روښانه کوي.

د رای ورکولو په هر محل کې د ولسمشري او ولایتي شوراګانو ټاکنو د رایو شمېرنه د رای ورکولو له پایته رسېدو وروسته پېلېږي.

له رایو شمېرلو دمخه د رایو صندوقونه پرانېستل کېږي او په صندوقونو کې شته رای پاڼې شمېرل کېږي. د پایلو هره فورمه پرلپسې شمېره او بارکوډ لري چې د ولسمشریزو ټاکنو د رای پاڼو بنډل پرله پسې شمېرو سره یوشان وي. د شمېرنې په پای کې، د رای ورکولو محل کارکوونکي د پایلو فورمو د پایلو برخه بشپړوي.

د پایلو فورمې له تیارولو وروسته (یوه اصلي فورمه او درې نقله یې د هرو ټاکنو لپاره )، د رای ورکولومحل ریس د پایلو د هرې فورمې یو نقل په رای ورکولو محل کې ځړوي او یو نقل د سیاسي ګوند/ نوماند استازو ته ورکوي. د محل ریس د پایلو د فورمې یو نقل له شمېرل شویو رای پاڼو سره یو ځای د رایو په صندوقونو کې ږدي. د محل ریس د پایلو د فورمو اصلي نقل او د رای ورکوونکو لست په هغه پاکټ کې چې پرلپسې شمېرې او بارکوډ لري، د پایلو فورمو او د رای پاڼو بنډل له پرله پسې شمېرو سره یوشان وي، ږدي او پاکټ د رای ورکولو مرکز مدیر په مخ کې بندوي او د رای ورکولو مرکز مدیر ته یې تسلیموي.

د رای ورکولو مرکز مدیر ډاډ ترلاسه کوي چې د رای ورکولو ټولو محلونو پاکټونو د پایلو فورمو اصلی نقل او د رای ورکوونکو لطست درلود، تسلیم یې کړې، هغه یې په محافظتي کڅوړو کې کېښودې او محافظتي کڅوړه یې مهرولاک کړه. محفاظتي کڅوړه وروسته ولایتي دفتر ته د انتقال او له هغه ځای څخه کابل ته د پایلو ملي مرکز ته د لېږد لپاره د ولسوالي ساحوي ناظم ته تسلیمېږي.

د لوژیستکي ترتیباتو له مخې، حفاظتي کڅوړې د ټاکنو له ورځې وروسته په ابې صندوقونو کې ږدي او په کابل کې د پایلو ملي مرکز ته لېږل کېږي. د پایلو ملي مرکز ته د لومړنی لېږدونې (محموله) سره نورې وروستی محمولې د ټاکنو په دریمه، څلورمه او پنځمه ورځ تعقیبېږي او د ټاکنو له ورځې څخه وروسته په اتو ورځو کې بشپړېږي.

د ترلاسه شویو حفاظتي کڅوړو، پرلپسې شمېرو، د رای ورکولو مرکزونو کوډ او د رای ورکولو محلونو شمېرد معلوماتو د ثبت لپاره په ولایتي دفترونو کې د ترلاسه کولو بهیر کې له انټرنیټي پروګرام څخه ګټه اخېستل کېږي.

د ترلاسه کولو مدیر او ولایتي دفتر امر یا ټاکل شوی کس، په ابي صندوقونودغه معلومات لیکي:

- د ولایت نوم
- د ولایت کوډ
- د صندوق شمېره
- په ابي رنګ صندوق کې د محفاظتي کڅوړو شمېر

ورپسې د ولایتي دفتر امر د ولایتي محفاظتي کڅوړو د ترلاسه کولو د تسلیمۍ فورمه کې لاندې معلومات ثبتوي:

- د ولایت نوم او کوډ
- د ابي رنګ صندوق شمېر، په بله وینا1 صندوق، 2 صندوق او داسې نور
- د محفاظتي کڅوړو پرلپسې شمېرې دتسلیمۍ په فورمو کې ثبتوي.
- د حفاظتي کڅوړو د مرکز کوډونه د تسلیمۍ په فورمو کې ثبتوي.
- په ابي رنګ صندوقونو کې د حفاظتي کڅوړو شمېرد تسلیمۍ په فورمو کې ثبتوي.
- د مهرلاک شمېرې د تسلیمۍ په فورمو کې ثبتوي
- د حفاظتي کڅوړو لپاره د تسلیمۍ فورمي چاپوي.
- د تسلیمۍ فورمي لاسلیکوي او د ترلاسه کولو مسول څخه هم د فورمو د لاسلیک غوښتنه کوي.
- د تسلیمۍ فورمودوه نقله چاپوي او یو نقل یې د ترلاسه کولو مدیرته ورکوي.
- د تسلیمۍ فورمې یو نقل په ابي رنګه صندوق کې ځای پر ځای کوي.
- ابي رنګه صندوقونه مهرولاک کوي.

اصلي فورمه سکن کوي، په ولایتي دفتر کې یې ارشیف کوي او د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر ته هم د برېښنالیک له لارې لېږل کېږي. د فورمي دویم نقل لوژیستکي مدیر ته ورکول کېږي چې د پایلو ملي مرکز ته له محمولې سره ملګری دی.

**د ټاکنو ولایتي دفتر باید هغه محفاظتي کڅوړه چې د پایلو ملي مرکز ته لېږل کېږي، پرانیزي**

هغه شمېر محافظتي کڅوړې چې د پایلو ملي مرکز یې ترلاسه کوي، د سیمه یزو عملیاتو د ټاکنو ورځې له راپوروونو سره او همدارنګه ولایتي ترلاسه کېدونکي راپورونوسره پرتله کېږي، تر څو ډاډ ه شي چې د رای ورکولو د پرانیستو او تړلومحلونو او مرکزونو د شمېر په هکله، د محفاظتي کڅوړو شمېر چې د پایلو ملي مرکز یې ترلاسه کوي او هغه پایلې چې د پایلو د معلوماتي بانک د نهایي کولو په موخه یې پړاونه ترسره کېږي، ډاډ وجود لري.

## موخې:

د پایلو ملي مرکز اساسي موخه دا ده چې د رای ورکولو محلونو پایلي په دقت او شفافیت توحید کړي. تېروتنې او یا د لاسوهنو شکمن موارد تشخیص کړي. تایید شوې پایلي په منظم ډول خپرې کړي اود پایلو ملي مرکز ته د سیاسي ګوندونو او نوماندانو د استازو، ټاکنیزو کتونکو او رسنیود لاسرسي زمینه برابره شي.

## د معلوماتو د خوندیتوب او روښتیا تدابیر

د پایلو د ارقامو د سموالي په اړه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره، د پایلو ملي مرکز ټول کارکوونکي به د پایلو ملي مرکز بانک ته ډېر لږ لاسرسی ولري. هرکاري ګروپ به وکولی شي په سیستم کې یواځې خپلې ورسپارل شوې دندې ترسره کړي (د بېلګې په توګه، د معلوماتو د ثبت مامورین نشي کولی چې د معلوماتو له ثبت مه واره د معلومات د مضعاف ثبت ترسره کړي. یا د کوم بل ګروپ دنده ترسره کړي).

د معلوماتو د ثبت کاري محلونه به یوازې د سافټویر له لارې د پایلو معلوماتي بانک ته قانوني محدود لاسرسی ولري او د معلوماتو هر ډول ثبت او یا د پلټنې په موخه بدلون تعقیبېږي.

د ټولو محلونوسي ډي رام او یو اس بي به غیر فعالېږي، ترڅو پایلې خوندي شي او د غیر قانوني خپرېدنې مخه یې ونیول شي.

د معلوماتو د ثبت پروسې په جریان کې هره ورځ د معلوماتو نقل اخیستل کېږي او د یادو معلوماتو نقل په درې خوندي او مختلفو ځایونو کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون څخه دباندې ځای په ګډون ساتل کېږي.

د معلوماتو د ثبت پروسې د روښتیا په موخه، د معلوماتو د مضعاف ثبت سیستم څخه کار اخیستل کېږي.

د معلوماتي بانک له دوه سرورونو څخه کار اخېستل کېږې چې یو د پایلو ملي مرکز کې په سرور خونه کې او بل یې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د مرکزي دفتر په سرور خونه کې

شتون لري چې د ټرلې شبکې لرونکی وي. دواړه سرورونه یو شان معلومات ثبتوي. که یو یې له کاره ولوېږي، نو دویم به یې بشپړ معلومات ولري

. ټول کارکوونکي د پایلو ملي مرکز ته د ننوتلو او وتلو پرمهال پلټل کېږي. د هېڅ ډول لېکلوتوکو اجازه نه ورکول کېږي پرته له هغه کارکوونکو چې دندې یې د دې ډول توکو کارولو ته اړتیا ولري. دا ډول توکي هره ورځ وېشل کېږي او بېرته ټولېږي.

په ټوله پروسه او د پروسې په هر پړاو کې کلکه څارنه او څېړنه کېږي.

پورته تدبیرونه به ډاډ ورکړي چې د پایلو په ملي مرکز کې د رای ورکولو له محل څخه د پایلو هره ترلاسه شوې فورمه داسې ده لکه د پایلو ملي مرکز په ډیټابیس کې چې وي.

## د کارکوونکو جوړښت او شمېر

د پایلو ملي مرکز د سهار له ۸ څخه د شپې تر ۱۰ بجو په دوه نوبتونو (شفټونو) کې فعالیت کوي. د پایلو ملي مرکز کارکوونکي د معلوماتو د ثبت مرکز له کارکوونکو څخه تشکیل شوي او د معلوماتو د ثبت او پروسس مسؤلیت لري. د ترلاسه کولو ټیم، د رای ورکولو د محلونو د برابرولو او راټولو ټیم، د تصفیي او تایید ټیم، او د پایلو ملي مرکز دمدیرانو ټیم چې ټول د پروسې د تنظیم او څارنې مسؤلیت لري او د پایلو ملي مرکز تخنیکي ټیم چې د پایلو ملي مرکز د مدیرانو او کارکوونکو ټیم سره مرسته کوي.

1. **د پایلو ملي مرکز د مدیرانوټیم**: د ټاکنو خپلواک کمیسیون له دایمي لوړ رتبه کارکوونکو تشکیل دی او په راس کې یې د کمیسیون د عملیاتو مرستیال قرار لري.
2. **د پایلو ملي مرکز تخنیکي ټیم**: د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ کارکوونکو څخه تشکیل دی چې د معلوماتي ټکنالوزي ریاست ریس یې رهبري کوي.
3. **د ترلاسه کولو ټیم**: د ټاکنو خپلواک کمیسیون د مرکزي دفتر کارکوونکو څخه جوړ دی چې د ترلاسه کولو مسؤلیت لري او د پایلو ملي مرکز د مدیرانو ټیم لخوا ټاکل کېږي.
4. **د پایلو د برابرولو ټیم**: دا ټیم د ټاکنو خپلواک کمیسیون د مرکزي دفتر له کارکوونکو جوړ دی چې د پایلو ملي مرکز د مدیرانو ټیم لخوا ټاکل کېږي او د رای ورکولو محلونو د پایلو فورمو د راټولولو او ترتیبولو دنده لري.
5. **سکن کوونکي**: د پایلو فورمو د سکن کولو مسؤلیت لري.
6. **د تصفیي ټیم**: داټیم مسوولیت لري چې ټولو محفاظتي کڅوړو او د پایلو فورمو ته مخکط له دې چې سکن شي او د معلوماتو د ثبت محلونو ته ولېږل شي، پام وکړي.

7. **د ثبېرنې او تایید ټیم**: دا ټیم مسولیت لري چې د پایلو فورمي وڅېړي، چې ایا په ارقامو کې توپیر شته او که نه.
8. **د معلوماتو د ثبت کارکوونکي**: د پایلو په ملي مرکز کې د معلوماتو ثبتولو د ټولو پروسو مسؤلیت لري.

## هارډویر

د پایلو ملي مرکز به په سرورونو او د کار په محلونو سنبال کړل شي.

د پایلو ملي مرکز به یو خپلواکه او تړلې شبکه ولري چې ټولو سرورونو او محلونو ته به له بهره لاسرسی نه کېږي.

## د پایلو ملي مرکز پروسه

### تعریفونه

د رای ورکولو د مرکزونو یا محلونو لومړنی پایلي، د رای ورکولو د مرکز یا محل هغه پایلي دي چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون غړو په نهایي ډول نه وي تصدیق کړې. دې پایلو پړاونه بشپړ کړي، خو په نهایي ډول نه دي تاید شوې.

**قسمي پایلي**، هغه شمېرې دي چې کمیسیون یې د پایلو د ثبت او شمېرلو پرمهال وخت په وخت اعلانوري. قسمي پایلې په تدریجي ډول خپرېږي او تر هغه وخته قسمي بلل کېږي چې د رای ورکولو د محلونو پایلي ٪۱۰۰ د ټاکنو خپلواک کمیسیون غړي تایدوي، منعکسې نشي قسمي ګڼل کېږي. ټولي قسمي پایلي د ماهیت له پلوه لومړنی پایلې ګڼل کېږي.

**لومړنی پایلې**،له هغو شمېرو څخه عبارت دي چې له ثبت او شمېرلو وروسته او د شکایتونو له څېړلو دمخه یې کمیسیون اعلا ن او خپروي. دا پایلي د ټاکنېزو شکایاتو کمیسیون لخوا د شکایتونو د حل او فصل تابع دي. کله چې د ټاکنېزو شکایاتو کمیسیون شکایتونه وڅېړي، نو کېدای شي په پای کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون پایلې تصدیق کړي.

**وروستی پایلي:** له هغو شمېرو څخه عبارت دي چې د ټاکنېزو شکایتونو له څېړنو او پرېکړې وروسته یې کمیسیون تصدیق، اعلان، خپرې او تطبیقوي.

## لنډه کتنه

د ترلاسه کولو محل باید داړ ترلاسه کړي چې له ټولو ولایتي دفترونو څخه ټول توکي په سمه توګه ترلاسه کېږي. د پایلو د برابرولو ټیم به د معلوماتو د ثبت لپاره د پایلوبرابرولو ټیم د معلوماتو د ثبت لپاره د پایلو فورمو د برابرولو مسوولیت لري. د معلوماتو د ثبت

محل مسوولیت لري، څو د پایلو فورمو معلومات د پایلو ملي مرکز معلوماتي بانک کې د خپلو ای ډی او پاسورډ په کارولو ثبت کړي.  د معلوماتو په ثبتولو کې د تېروتنو د مخنیوي لپاره د دوه ګوني (double  blind  entry) سیستم څخه کار اخېستل کېږي. د فورمو د کتنې او سمونې محل ته به دنده سپارل کېږي چې فورمي وڅېړي او تېروتنې یې د سکن شوو اصلي فورمو له مخې سمې کړي. د کیفیت څارنې محل ته به دنده سپارل کېږي چې د پایلو ملي مرکز په ډیټابیس کې ثبتېدونکي د پایلو فورمې سکن شوو اصلي فورمو له مخې اصلاح کړي. د ارشیف محل ته دنده سپارل کېږي چې د پایلو په ملي مرکز کې ترلاسه شوو کڅوړو ټول اصلي توکي خوندي کړي.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون به د تصفیي او تایید یوټیم برابرکړي ترڅو ټولې محافظتي او ستونزمنې کڅوړې او پایلې وڅېړي. د تصفیي ټیم به د اخېستنې او رای ورکولو د مرکزونو د فورمو چمتو کولو پروسو پرمهال فعالیت کوي. که په معلوماتو کې توپیر وي، نو د تایید ټیم به په فورمو کار کوي.

دهرې ورځې په پای کې د پایلو ملي مرکز تخنیکي ټیم د پایلو مرکز اداري ډلې ته د پروسې په اړه بشپړ راپور ورکوي. د کاري پرمختګ پدې راپور کې به د معلوماتو د ثبت لومړی او دویمي پروسي ترمنځ توپیرونو او د فورمو د اصلاح، پلټنې او د کیفیت د څارنې په اړه بشپړ معلومات شامل وي.

د پایلو ملي مرکز به د کاري ساعتونو پرمهال، د سیاسي ګوندونواو نوماندانو د استازو، کتونکو او باورلیک لرونکو رسنیو پرمخ پرانیستی وي او د ثبت او شمېرنې د پړاو دمخه به رسنۍ د پایلو ملي مرکز ته بلل کېږي تر څو د یاد مرکز د کار د څرنګوالي په اړه بشپړ معلومات ورکړل شي.

## د معلوماتو د ثبت پروسې مراحل

د رای ورکولو  محلونو د پایلو ټولې فورمې، د رای ورکولو له هر مرکز څخه د یوې اوه پړاویزه پروسې په بشپړولو سره د پایلو ملي مرکز د معلوماتو بانک کې ثبتېږي. د دې پروسې هر پړاو د ټاکنو خپلواک کمیسیون د مرکزي دفتر د مشخصو کارکوونکو په وسیله یا د معلوماتو د ثبت کارکوونکو او سوپروایزرانو پّ وسیله په یو جلا محل کې ترسره کېږي .د پایلو ملي مرکز د معلوماتي بانک ته د لاسرسي لپاره د معلوماتو د ثبت ټول کارکوونکي او سوپروایزران د معلوماتو مرکز ته د لاسرسي لپاره ځانګړې ای ډی، پاسورډ له یو لړ ټاکلو واکونو سره ورکول کېږي. د معلوماتو د شفافیت او خوندیتوب په موخه به د پایلو د ثبت او تنظیم ټول مامورین خورا محدود لاسرسی ولري.

## لومړی محل: ترلاسه کول

د ټاکنو خپلواک کمیسیون یو مرکز جوړ کړی چې له ولایتونو څخه را رسېدلې ټولې محافظتي کڅوړې پکې ترلاسه شي. دغه محل د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر له کارکوونکو جوړ دی او یو سرټیم به یې رهبري کوي.

توکي په دوه پړاونو کې ترلاسه کېږي:

لومړی پړاو: دوه ټیمونه او یو سپوروایزر د محافظتي کڅوړو لرونکي ابي صندوقونه ترلاسه کوي او محتوا یې څېړي. دا څېړنه پدې ډول ترسره کېږي:

1. دا څېړي چې مهرلاکونه سالم دي او که نه!، که سالم وي، نو مخکې ځي.
2. د ابي رنګه صندوق مهرلاکونه د محافظتي کڅوړې د تسلیمی فورمې سره مقایسه کوي، که چېرې سم وي، نو مخکې ځي.
3. مهرلاکونه ماتوي او ابي رنګه صندوق پرانیزي، د محافظتي کڅوړو شمېر اوپرلېپسې شمېرې د سپارلو فورمې سره پرتله کېږي.

د پورتنۍپروسې له بشپړېدو وروسته، د محافظتي کڅوړو لرونکی صندوق ورپسې پړاو (دویم پړاو)انتقالېږي، مګر دا چې د ابي صندوق یا یې د محتوا په اړه لاندې ستونزې ولیدل شي:

1. هر ابي صندوق په څلورو مهرلاکونو نه وي تړل شوی (که چېرې داسې وي، نو ابي صندودق مه پرانیزئ).
2. د یو یا څو مهرلاکونو پرلېپسې شمېرې په سپارل شوې فورمه کې ثبت شوو معلوماتو سره توپیر ولري (که چېرې داسې وي، نو ابي صندودق مه پرانیزئ).
3. که له محافظتي کڅوړو بهر ناتړل شوې فورمې موجودې وي.
4. د فورمې په محافظتي کڅوړه نه، بلکې په سپین پاکټ یا کومه بله کڅوره کې وي.
5. د ابي رنګه صندوقونو محتوا د محافظتي کڅوړو د شمېر یا د د محافظتي کڅوړو د پرلېپسې ګڼې او یا د رای ورکولو مرکز د کوډ له پلوه له هغه فهرست څخه توپیر ولري چې د محافظتي کڅورو د تسلیمي فورمې او یا د لوژستیک ثبت دفتر کې ثبت شوي دي.
6. په ابي رنګه صندوق کې دمحافظتي کڅورو په اړه کومه بله ستونزه یا اندېښنه.

که له پورتنیومواردو څخه یو هم موجود وي، نو یوه یا له یوې څخه ډېرې محافظتي کڅوړې یا ټولې محمولې (ابي رنګ صندوق) د څېړنې لپاره جلا کېږي.

<u>د ترلاسه کولو ټیم بدې ډول فعالیت کوي:</u>

- ✓ سوپروایزر ته خبر ورکوي.
- ✓ سوپروایزر د تصفیې ټیم سره اړیکه نیسي.
- ✓ محفاظتي کڅوړې د تصفیي ټیم ته له سپارلو دمخه، په معلوماتي بانک کې "دویم پړاو" ثبتېږي.
- ✓ د موادو د ترلاسه کولو مامور:
  - a. د محفاظتي کڅوړې معلومات ثبتوي
  - b. د هغې ستونزې ډول چې ورسره مخامخېږي، په معلوماتي بانک کې ثبتوي.
- ✓ محفاظتي کڅوړې د تصفیي ټیم ته سپاري.
- ✓ هغه محفاظتي کڅوړې چې د تصفیي ټیم تصفیه او تاید کړې وي، د پړاونو د بشپړولو لپاره د ترلاسه کولو دویم پړاو ته انتقالېږي. هغه محافظتي کڅوړې چې نه وي تاید شوې، د تصمیم نیولو په موخه د پایلو ملي مرکز د مدیرانو ټیم ته راجع کېږي

**دویم پړاو**: دوه ټیمونه او یو سوپروایزر به د ترلاسه کولو په معلوماتي بانک کې د محفاظتي کڅوړو د معلوماتو د ثبتولو مسؤلیت لري. هر ټیم به په یو وخت کې په یو ابي رنګه صندوق کار کوي. نوموړی ټیم به محفاظتي کڅوړې له ابي رنګه صندوق څخه وباسي او د محفاظتي کڅوړې پرلپسې شمېره، د رای ورکولو مرکز او محل کوډ او شمېر د ترلاسه کولو ولایتي معلوماتي بانک سره پرتله کوي.

د محفاظتي کڅوړو معلومات وروسته په معلوماتی بانک کې ترلاسه او ثبتېږي.

1. هغه محافظتي کڅوړې چې کومه ستونزه ونلري، د ترلاسه کولو ټیم لخوا د ولایت او ولسوالۍ پربنسټ خوندي کېږي او بیا دویم محل ته سپارل کېږي، تر څو د پایلو د چمتو کولو ټیم لخوا پروسس شي.
2. که د محفاظتي کڅوړو پرله پسې شمېرې له هغو پرلپسې شمېرو سره چې د ولایتي ترلاسه کولو په معلوماتی بانک کې ثبت شوو شمېرو سره سمون ونلري، نو کڅوړه به د نورو څېړنو لپاره د تصفیي ټیم ته لېږل کېږي.

- ✓ د ترلاسه کولوټیم معلومات په ډیټابیس کې ثبتوي او د معلوماتي بانک د ملاحظاتو په برخه کې د ټاکلي تش کورګي (خانه خالي) په نښه کولو سره چې ستونزمنه محافظتي کڅوره د تصفیې ټیم ته استول شوې ده.
- ✓ د اخېستنې ټیم سوپروایزر ته خبر ورکول کېږي او محفاظتي کڅوړې ورته سپارل کېږي.
- ✓ سوپروایزر مسوولیت لري چې محفاظتي کڅوړې د تصفیې ډلې ته وسپاري.
- ✓ د ترلاسه کولو ټیم به بله محفاظتي کڅوره له پړاونو تېروي.

محافظتي کڅوړې د تصفيي او تاييد ټيم له تصفيې وروسته بېرته د ترلاسه کولو ټيم ته سپارل کېږي. د ترلاسه کولو ټيم دوباره معلوماتي بانک ته مراجعه کوي او د دې په ليکلو سره چې (تايد شو) د محافظتي کڅوړې معلومات اصلاح کوي. محافظتي کڅوړه د معمول طرزالعمل مطابق دويم محل (د پايلو برابرول) ته لېږل کېږي.

که چېرې محافظتي کڅوړې تاييد نشي، نو د پايلو ملي مرکز د مديرانو ډلې ته د تصميم نيولو لپاره لېږل کېږي.

## دويم محل: د پايلو فورمو چمتو کول

د پايلو د فورمو چمتو کولو ټيم مسوليت لري چې د معلوماتو د ثبت (دريم محل) لپاره د پايلو فورمې چمتو کړي. د محلونو ترمنځ د محافظتي کڅوړو تسليمي د انتقال فورمې پوسيله تعقيبېږي.

### لومړی پړاو: د پايلو فورمو څېړنه

محافظتي کڅوړې پرانېستل شوې، پاکټونه شمار او پرانيستل شول او د پايلو فورمې د لاندې موخو لپاره څېړل کېږي:

1. دا چې د پاکټونو شمېر د رای ورکولو محل د شمېر سره سمون لري.
2. د پايلو فورمو پرلپسې شمېرې د رای ورکولو مرکز له شمېرې سره سمون لري.
3. دا چې د هرو (د ولسمشري او ولايتي شوراګانو) ټاکنو لپاره د فورمو شمېر د رای ورکولو محلونو له شمېر سره سمون لري چې د ټاکنو په ورځ پرانېستل شوي وو.
4. دا چې فورمې هغه ټول اړين معلومات لري چې د معلوماتو د ثبت مامور ورته د معلوماتو د ثبت په محل کې د فورمو د پروسس لپاره اړتيا لري.
5. دا چې په فورمه کې د لاسوهنې کومه نښه نه ليدل کېږي (که چېرې فورمې په سکاشتېپ نه وي پوښل شوې، نو پر هغو سکاشتېپ ولګوئ).

د پايلو فورمو د چمتو کولو ټيم به د رای ورکولو هر محل او مرکز معلومات په ډيټابيس کې ثبتوي. که چېرې د کومې محافظتي کڅوړې يوه يا زياتې فورمې ستونزې ولري، نو د پايلو فورمو چمتو کولو ټيم به معلومات د معلوماتو بانک کې ثبتوي او محافظتي کڅوړه د زياتو څېړنو لپاره د تصفيي برخې ته سپاري (که چېرې محافظتي کڅوړې د تصفيې برخې ته د لېږلو اړتيا ولري، نو د محافظتي کڅوړې توکي نه سکن کېږي).

د رای ورکوونکو لست په پاکټ کې پاتې کېږي او د پايلو فورمو سره يوځای بېرته په محافظتي کڅوره کې اچول کېږي. که چېرې اړتيا وي چې د پايلو فورمې د څېړنو لپاره د تصفيې څانګې ته ولېږل شي، نو تصفيي ټيم بنايي د تصفيي پرمهال د رای ورکوونکو لېست ته مراجعه وکړي.

## دويم پړاو: د پايلو فورمو سکن کول

د پايلو د چمتو کولو ټيم لخوا د محفاظتي کڅوړو او په هغه کې شته توکو د پلټنې بشپړېدو وروسته که چېرې کومه ستونزه وجود ونلري، نو د رای ورکولو د هر محل د پايلو فورمې سکن کېږي. د پايلو سکن شوې فورمې به د دريم محل لخوا د معلوماتو بانک کې د معلوماتو د ثبت لپاره کارول کېږي او يو نقل به يې د ټاکنو خپلواک کميسيون په ويبپاڼه کې د کميسيون د تاييد وروسته خپرېږي. که چېرې يوه فورمه اصلاح يا بيا شمېرل شوې وي، نو هغه اصلاح شوې فورمه هم خپرېږي او د اصلاح د علت په اړه يې وضاحت ورکول کېږي.

يادونه: يواځې د پايلو تصفيه شوي فورمي سکن کېږي.

## دريم پړاو: راتلونکي محل ته د پايلو فورمو سپارل

په يو مرکز کې د ټولو محلونو د فورمو د سکن د بشپړېدو وروسته، اصلي اسناد (محفاظتي کڅوړه، د رای ورکوونکو لېست او د پايلو فورمې) به د ارشيف محل (اووم محل) ته د خوندي کولو لپاره لېږل کېږي. د معلوماتو د ثبت په محل (۳ محل) کې به د معلوماتو پروسس د فورمو د سکن شوو نقلونو د کارولو پوسيله ادامه ولري او د معلوماتو د ثبت مامورينو ته به د هغوی ويش په اتومات ډول د سيسټم د سافټ وير پوسيله صورت نيسي.

که چېرې د رای ورکولو د يوه مرکز يو يا زيات محلونه ستونزې ولري، نو د ياد مرکز ټولې فورمې يوې خوا ته اېښودل کېږي او دتصفيې لپاره د تصفيې ټيم ته لېږل کېږي. د پايلو فورمو چمتو کولو ټيم سوپروايزر مسؤليت لري چې ستونزمنې کڅوړې د تصفيي برخې ته وسپاري. د تصفيې ټيم ته د محفاظتي کڅوړو لېږل به د انتقال فورمې د بشپړولو پوسيله ترسره کېږي.

محفاظتي کڅوړې د پايلو د چمتو کولو په مرکز کې ساتل کېږي، که چېرې:

1. د محفاظتي کڅوړو له پرانېستلو وروسته، توکي په مرکز کې د محلونو شمېر سره سمون ونلري (ورکې شوې يا زياتې شوې فورمي).
2. د پايلو فورمه د اصلي فورمې کاپي وي (که چېرې ياد مرکز د هغو مراکزو په لېست کې نه وي چې د فورمو د کاپي کولو واک ورته ورکړل شوی و).
3. په محفاظتي کڅوړو کې د پايلو فورمو شمېر د پرانېستل شوو محلونو سره سمون ونلري چې ولايتي امر يې په ډيټابيس کې راپور ورکړی وي. د بېلګې په توګه، د يو مرکز د پرانېستو محلونو شمېر په ډيټابيس کې د ولايتي امر د راپور پر بنسټ ۵ وو، خو محفاظتي کڅوړې ۴ وې او يا د دې برعکس.

4. د پایلو د فورمو شمېر په محفاظتي کڅوړه کې ثبت شوې شمېر سره سمون ونلري.
5. که چېرې څرګنده شي چې د پایلو په فورمو لګېدلې سکاشټیپ کې لاسوهنه شوې.
6. د پایلو فورمه په بشپړ ډول ډکه شوې نه وي.
7. د فورمې د پایلې په برخه کې په عدد او تورو لېکل شوو شمېرو ترمنځ توپیر وي.

کله چې فورمې د تصفیې برخې ته ولېږل شي، یاد ټیم به د ولایتي دفتر اړوند څېړنې کوي چې پایله یې ښايي محافظتي کڅوړې تاید کړي، یا د دې لامل شي چې محافظتي کڅوړې د تصمیم نیولو په موخه د پایلو ملي مرکز د مدیرانو ټیم ته واستول شي.

- ✓ که چېرې د څېړنې پایله تصفیه او تایید شي، فورمې بېرته د پایلو چمتو کولو محل ته د پروسس لپاره لېږل کېږي. د پایلو چمتو کولو ټیم به په ډیټابیس کې د دې په یادولو سره چې محافظتي کڅوړې تاید شوې، اصلاح کوي او د اړتیا پرمهال  یې د معلوماتي بانک د موندنو له مخې (په بله وینا د محلونو شمېر بدلوي) سکن کوي یې  او دریم محل ته یې تسلیموي.
- ✓ که چېرې د تصفیي ټیم محافظتي کڅوړې تصفیه نکړي، نو موضوع د پرېکړو لپاره د پایلو ملي مرکز د مدیرانو ټیم ته راجع کوي.

**دریم محل: د پایلو فورمو ثبتول**

د معلوماتو د ثبت محل مسوولیت لري چې له خپلو آی ډي او پاسورډونو څخه په ګټه اخېستنه د پایلو ملي مرکز په ډیټابیس کې د پایلو فورمې ثبت کړي. د معلوماتو د ثبتولو پروسې د ګړندي کولو لپاره به د معلوماتو د ثبت سکرین د پایلو فورمو سره یو شان وي. په سیسټم کې د ثبتېدونکو معلوماتو د روښتیا او سموالي د ډاډ لپاره، په ډیټابیس کې د معلوماتو د ثبتولو دمخه سیسټم پر ریاضیکي څېړنو او کیفیت څارنه کوي. **د ناسمو معلوماتو او یا په ناسمه توګه د معلوماتو د داخلولو په صورت کې د معلوماتو د ثبت مامور ته خبر ورکول کېږي او یا د اړتیا له مخې سوپروایزر راغوښتل کېږي.** کله چې سیسټم د پایلو فورمې ثبت ومني، بله فورمه د ثبت مامور ته وړاندې کېږي او د پایلو ثبت شوې فورمه راټلونکي پړاو لپاره په کتار کې اېښودل کېږي.

یادونه: د کڅوړې پرلپسې شمېره به د هغو معلوماتو یوه برخه وي چې د سکي په محلونو کې په سیسټم کې ثبتېږي.

**څلورم محل: د معلوماتو دویمي ثبت (Double Blind Entry)**

د معلوماتو د ثبت په پروسه کې د تېروتنو د مخنیوي لپاره د معلوماتو دویمي ثبت طریقې څخه ګټه اخېستل کېږي. په همدې اساس، د معلوماتو د ثبت یو بل محل ته به

دنده سپارل کېږي چې هغه فورمې بیا په سیستم کې ثبت کړي چې د معلوماتو د ثبت لومړنی پړاو یې (دریم محل) تېر کړی وي. یاد پړاود دریم محل د پروسې سره یو شان ده او همغسې د معلوماتو د سموالي پلټنه به په ډېټابیس کې د معلوماتو د ثبت دمخه د سافټ ویر پوسیله ترسره کېږي. معلومات به د رای ورکولو ځانګړي محل لپاره د کیفیت ځارنې په موخه ترسره کېږي.

د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه شي چې د ثبت شوو معلوماتو څېړنه له لومړي ثبت څخه بېل ترسره شي، د معلوماتو دویمي ثبت سافټ ویر ډاډ ورکوي چې د پایلو فورمې د دویمي ثبت مامورینو ته په غیر منظم ډول وړاندې کېږي.

د پایلو فورمو له ثبت وروسته ټول اسناد پنځم محل ته  لېږل کېږي

## پنځم محل: د فورمو کتنه او سمون

په دې پړاوکې د پایلو ملي مرکز د سافټ ویر سیسټم هغه ټول ارقام پرتله کوي چې په دریم محل (د معلوماتو ثبت) او څلورم (Double Blind Entry) محل کې ثبت شوي او هغه ثبت شوي معلومات په نښه کوي چې سمون نلري. د فورمو د کتنې او سمون ټیم ته دنده سپارل کېږي چې فورمې وڅېړي او تېروتنې د پایلو سکن شوو فورمو له مخې اصلاح کړي. د معلوماتو د ثبت مامور به د لومړني ثبت او دویمي ثبت له ډلې یو ټاکي دوی نشي کولی چې نوې شمېره داخله کړي. دوی دواړه ثبت شوي معلومات د پایلو سکن شوو فورمو سره پرتله کوي او سمه یې ټاکي.

په هغه صورت کې چې دواړه شمېرې ناسمې وي، د معلوماتو د ثبت مامور په سیستم کې ثبتوي چې د پایلو فورمه باید بېرته د معلوماتو د ثبت (دریم محل) ته ولېږل شي. په سافټ ویر کې مناسب توضیحات وړاندې کېږي چې له مخې یې د پایلو فورمې باید بیا ځلي دریم محل ته ولېږل شي او بېرته په دریم محل کې د معلوماتو د ثبت لپاره په کتار کې کېښودل شي. د پایلو فورمه یو ځل بیا ټول پړاونه تېروي، لکه دمخه یې چې یادونه وشوه.

یادونه: که وموندل شي چې کومه فورمه یا فورمي په دواړو ۳ او ۴ محلونو کې په ناسمه توګه پروسس شوي، نو یواځې همغه محلونه د معلوماتو د بیا ځلي ثبت پرمهال ناسم په نښه کېږي چې د معلوماتو د ثبت او یا دویمي ثبت پرمهال څرګند شي. د پایلو نورې سمي فورمي د رای ورکولو له همغه محل څخه په سیستم کې داسې په نښه کېږي چې سمې ثبت شوې وي.

## شپږم محل: د کیفیت ځارنه

دې محل ته به دنده سپارل کېږي چې پروسس شوې د پايلو فورمې وڅېړي. **په ډېټابيس کې ټول ثبت شوي معلومات به د پايلو فورمو سکن شويو نقلونو سره پرتله او پلټل کېږي.** که د کيفيت ځارنې مدير په معلوماتي بانک کې د ثبت شوو معلوماتو او د پايلو اصلي فورمو ترمنځ توپير ومومي، نو د کيفيت ځارنې مديريې په سافټ وېير کې په نښه کوي چې نومورې فورمه بايد د معلوماتو د ثبت (درېيم محل) ته د پروسس لپاره ولېږل شي. لدې وروسته فورمه له پروسس څخه تېرېږي لکه څنګه چې پورته ذکر شول.

<u>يادونه</u>: که د ثبت شوو معلوماتو او پايلو اصلي فورمو ترمنځ توپير وي، نو د معلوماتو د ثبت او دويمي ثبت پرمهال يواځې ناسم ثبت شوي معلومات په نښه کېږي. د رای ورکولو مرکز نورې سمې د پايلو فورمې په سيسټم کې سمې په نښه کېږي.

که چېرې ټول ثبتېدونکي معلومات په سيسټم کې سم په نښه شي، د پايلو فورمې په سيسټم کې ادامه مومي.

**اووم محل: آرشيف**

پدې محل کې د پايلو اصلي فورمې او په اصلي حفاظتي کڅوړو کې د رای ورکوونکو د لست سره يوځای په فزيکي بڼه په خوندي زېرمو کې ساتل کېږي. د ارشيف محل په کتار کې ټول عصري معلومات به د پايلو ملي مرکز د مديرانو وګوري، تر څو ډاډ ترلاسه شي چې دوی له ټولو اړينو پروسو څخه تېرې شوي دي کوم چې مخکې ذکر شول او د پايلو ملي مرکز په ډېټابيس او نورو کې د پايلو فورمې مني، يو له لاندې کړنو ترسره کوي:

1. که د پايلو فورمې سمې ومونډل شي، نو د وروستی کتنې او پرېکړې لپاره د ټاکنو خپلواک کميسيون کمشنرانو بورډ ته د لومړنيو پايلو د اعلانولو لپاره لېږل کېږي، او يا
2. که کومه ستونزه ومونډل شي،نو د څېړنو لپاره معرفي کېږي.

## د تصفيې او تاييد څانګه

د تصفيې او تاييد څانګه به په ابي رنګه صندوقونو، حفاظتي کڅوړو او د پايلو په فورمو کې ممکنې ستونزې تکراروي او له دوه برخو جوړه شوې ده: د تصفيې برخه او د تاييد برخه

### د تصفيې برخه

د تصفيې برخه په لاندې حالاتو کې د ترلاسه کولو او پايلو د فورمو د چمتو کولو محلونو لپاره اضافي څېړنې برابروي:

ابي صندوقونه په لاندې حالاتو کې څېړل کېږي:

1) هر ابي رنګه صندوق د څلورو مهرلاکونو پوسیله نه وي تړل شوی.
2) د ابي رنګه صندوقونو په مهرلاکونو کې لاسوهنه شوې وي او یا شمېرې یې په سپارل شوو فورمو کې ثبت شوو شمېرو سره توپیر ولري.
3) د حفاظتي کڅوړو شمېرد سپارلوپه فورمو کې ثبت شوي شمېر سره سمون ونلري.
4) له حفاظتي کڅوړو څخه پرانېستل شوې د پایلو فورمي شتون ونلري.

<u>حفاظتي کڅوړې په لاندې حالاتو کې څېړل کېږي:</u>

1) د حفاظتي کڅوړې پرلپسې شمېره د سپارلو فورمه کې ذکر شوو شمېرو سره سمون ونلري.
2) په کڅوړو کې د لاسوهنو احتمال څرګندېدل
3) د رای ورکولو مرکز کڅوړې چې فورمې پکې وي په حفاظتي کڅوړه کې نه وي، خو په کوم بل پاکټ کې وي (د بېلګي په توګه په نصواري پاکټ کې).
4) د پایلو د فورمې شمېره د محل د مجموعي شمېرې سره توپیر ولري کوم چې په حفاظتي کڅوړه ثبت شوی وي.
5) د پایلو د فورمې شمېرې د خلاصو محلونو د شمېرو سره توپیر ولري چې د ټاکنو په ورځ یې خبر ورکړل شوی.
6) د پاکټونو پرمخ پرلپسې شمېره د پایلو د فورمو پرلپسې شمېرې سره توپیر ولري.
7) د پایلو د فورمو پرلپسې شمېره د بسته بندۍ پرمهال د رای ورکولو له اړوند محلونو لپاره ثبت شوو شمېرو سره توپیر ولري.

د تصفیې څانګه به خپلې پوښتنې د زیاتو معلوماتو لپاره د ټاکنو خپلواک کمیسیون د سیمه یزو عملیاتو ریاست سره شریکوي د پلټنو وروسته که چېرې ستونزې حل شي او د پایلو او تایید فورمې تایید شي، نو د سکن مرحلې ته لېږل کېږي.

که چېرې د پایلو فورمو ستونزې د حل وړ نه وي نو د پایلو ملي مرکز اداري ډلې ته لېږل کېږي څو یې په اړه نورې پرېکړې وکړي.

## د تایید ټیم:

که چېرې د پایلو ډېټابیس د پلټنو په نتیجه کې څرګنده شي چې د پایلو په فورمو کې د شمېرو ترمنځ توپیر شته، نو د تایید ټیم نورې څېړنې ترسره کوي.

د تایید ټیم د پایلو په فورمو کې د تېروتنو څېړنه کوي او خپلې لاسته راوړنې د پایلو ملي مرکز اداري ډلې ته د پرېکړې لپاره لېږي. د پایلو ملي مرکز اداري ډلې د پرېکړو وروسته که

چېرې د پایلو په فورمو کې تعدیل یا کوم تغیر راوړل کېږي، فورمې د سکن مرحلې ته لېږل کېږي.

## د پایلو د ډیټابیس پلټنې

د پایلو د ډیټابیس په کچه به په لومړنۍ توګه لاندې پلټنې ترسره کېږي:

1. که چېرې په کوم محل کې د (باوري+بې باوره) رایو مجموعه پوره ۶۰۰ یا لدې زیاته شي نو ډیټابیس به پلټنه ترسره کوي.
2. ډیټابیس به د رایو له صندوقونو څخه ویستل شوو رایو مجموعي شمېر د باوري او بې باوره رایو له شمېر سره پرتله کوي او که چېرې د جعل کومه د پام وړ پېښه وموندل شي، نو یوه پلټنه ترسره کېږي.
3. ډیټابیس د نوماندانو لخوا ترلاسه شوې ټولې رای د پایلو فورمو کې د رایو مجموعي شمېر سره پرتله کوي او د جعل د کومې مهمې پېښې په صورت کې پلټنه کوي.

د رای ورکولو هغه مرکزونه چې پورته کومه کړنه ورته ترسره کېږي په اتومات ډول د پایلو ملي مرکز اداري ډلې ته د پلټنې، څېړنې او پرېکړې لپاره لېږل کېږي.

## د پایلو راپور برابرول او اعلان

د پایلو ملي مرکز معلومات

د پایلو ملي مرکز به لومړنۍ پایلې په دوامدار ډول د لاندې اهدافو لپاره خپروي:

1. د پایلو ملي مرکز اداري ټیم
2. د ټاکنو خپلواک کمیسیون غړي
3. د پایلو اعلان
4. د رسنیو مرکز شمېرې او نور معلومات خپروي او نوي کوي یې.
5. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د پایلو ویبپاڼه

## د پایلو ملي مرکز اداري ټیم

د پایلو ملي مرکز تدریجي پایلې (چې په هغوکې به د محلونو او راټولې شوې پایلې شاملې وي) برابروي او د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارلانشاء رییس او له همدې لارې د کمیسیون غړو ته له لېږلو دمخه د پایلو ملي مرکز اداري ډله یې ګوري. همدارنګه دوی د پایلو په ترلاسه شو فورمو د څېړنې د اړتیا په صورت کې لازمې لارښوونې کوي.

د پایلو ملي مرکز له کارکوونکو څخه د هر ډول اصلي اسنادو د بیا ترلاسه کولو یا د شمېرو او عددي معلوماتو د برابرولو غوښتنه د پایلو ملي مرکز اداري ډلې لخوا کېږي.

د پایلو ملي مرکز اداري ټیم غړي به هره ورځ غونډه کوي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د کمشنرانو بورډ هغه وخت راغوښتل کېږي چې د پایلو ملي مرکز اداري ډلې سره په کافي اندازه د رای ورکولو د محلونو پروسس شوې پایلې موجودې وي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د کمشنرانو بورډ پایلې بېرته د پایلو ملي مرکز اداري ډلې ته سپاري. د پایلو ملي مرکز اداري ټیم به تصویب شوې پایلې د اعلانولو لپاره برابروي او د ناتایید شوو پایلو د ټاکنو خپلواک کمیسیون د غړو د لارښوونو له مخې پلټنه پېلوي.

لومړنۍ پایلې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د کمشنرانو لخوا تایید شوي وي د کمیسیون د رسنیو په مرکز کې اعلانېږي.

د پایلو ملي مرکز به درې ډوله راپورونه برابروي:

1. **د پروسس شوو محلونو په اړه د پایلو ملي مرکز تدریجي راپور**

د رای ورکولو پروسس شوو محلونو په اړه د پایلو ملي مرکز تدریجي راپور خپروي او د هغو محلونو شمېر څرګندوي چې پړاونه یې بشپړ کړي دي.

د ترلاسه کولو پروسې د بشپړېدو وروسته، پدې راپور کې د رای ورکولو د پرانیستو محلونو شمېر د ټولو محلونو شمېر ښیي.

2. **د ولایت او هېواد په کچه احصاییوي راپور او د رای ورکوونکو د حضور په اړه راپور**

نومړی راپور د هر ولایت په اړه وي چې په اړوند ولایت کې د رای ورکوونکو د مجموعي شمېر، د هغه رای ورکوونکو شمېر چې رایي یې ورکړي، د خلکو د ګډون سلنه، نارینه او ښځینه رای ورکوونکو د شمېر په اړه معلومات وړاندې کوي.

دا راپور په دوو بېلو ګڼوکې برابرېږي چې یو یې د ټولو ولایتونو په اړه لنډ او بل یې د هر ولایت په اړه معلومات وړاندې کوي.

## په هر ولایت او ټول هیواد کې د رای اچولو لنډ معلومات

پدې راپور کې به دا معلومات شامل وي: د باوري رایو شمېر، د بې باوره رایو شمېر، باطلي راي (باطلي رایې د هغو نوماندانو له رایو څخه عبارت دي چې له نوماندۍ څخه تېر شوي ، له لېسته ویستل شوي او یا وفات شوي وي، خو په رای پاڼه کې لیدل کېږي). دې

نوماندانو ته اچول شوې رایې د پایلو په ملي مرکز کې د معلوماتو د ثبت په پروسه کې باطلېږي اوا+۵۰ رایو کې چې د اکثریت ترلاسه کولو لپاره لازمي دي، نه شمېرل کېږي.

دا راپور په دوو بېلو ګڼو کې برابرېږي چې یو یې د ټولو ولایاتو په اړه لنډ او بل یې د هر ولایت په اړه معلومات وړاندې کوي.

د ولسمشـریزو او ولـایتي شـوراګانو د ټاکنو څخـه وېسـتل شـوي نومانـدان پـدې راپـور کـې شامل ندي.

3. د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو دوامداره (قسمي) پایلې او د ګټونکو نوماندانو ګراف

پدې راپور کې د هر نوماند پایلې په تدریجي ډول څرګندېږي چې د ترلاسه شوو رایو او یا په رای پاڼه کې موقعیت له مخې څرګندېږي.

په هر ولایت کې د نارینه او ښځینه نوماندانو لپاره دوه بېل راپورونه برابرېږي.

د ولسمشرۍ لومړنۍ قسمي پایلي لږ تر لږه ۲۰ مختلفو ولایاتو څخه ۵٪ پایلو فورمو د پروسس وروسته ډېر ژر د ټاکنو له ورځې څخه تر ۵ ورځو پورې باید اعلان شي.

نوماندانو ترلاسه شوو رایو پر بنسټ راپور

دا راپور په یو جدول کې چې د نوماندانو ترتیب یې د ترلاسه شوو رایو پر بنسټ وي، برابرېږي. پدې راپور کې به د نوماند نوم او د هغه ترلاسه شوو رایو مجموعه شامله وي. دا راپور به د هېواد په کچه د ولایت او جمهوري ریاست لپاره وي.

په هر ولایت کې د نارینه او ښځینه نوماندانو لپاره دوه بېل راپورونه برابرېږي.

په رای پاڼه کې د نوماندانو د ترتیب پر بنسټ راپور

پدې راپور کې د ګټونکو نوماندانو ترڅنګ د ولایت نور ټول نوماندان شامل وي. دغه راپور به په رای پاڼه کې د نوماندانو د ترتیب په اساس وي. پدې راپور کې په رای پاڼه کې د نوماند شمېره، د نوماند نوم او د نوماند لخوا ترلاسه شوو ټولو رایو مجوعه ښودل کېږي.

د رای ورکولو محلونو له مخې ګټونکي نوماندان

دا راپور هغه نوماندان څرګندوي چې د رای ورکولو په محل کې یې لږ تر لږه یوه رایه ترلاسه کړې وي او د ترلاسه شوو رایو د شمېر له مخې له پورته خوا څخه ښکته ترتیبېږي.

د رای ورکولو مرکزونو له مخې ګټونکي نوماندان

دا یو داخلي راپور دی چې د رای ورکولو ټول بشپړ شوي مرکزونه پکې شامل وي چې د پایلو ملي مرکز اداري ډلې لخوا کارول کېږي او د رای ورکولو په همغه مرکز کې د رای ورکولو محل پر بنسټ ټول نوماندان پکې شامل وي. دا راپور د رای ورکولو هر مرکز پر بنسټ وي.

د رسنیو په مرکز کې د لومړنیو پایلو د اعلان سمدستي وروسته د ټاکنو خپلواک کمیسیون ویبپاڼه د نویو لومړنیو پایلو پوسیله نوي کېږي او د ټاکنو خپلواک کمیسیون د غړو لخوا تاییدېږي.

> که چېرې دټاکنو خپلواک کمیسیون لخوا اعلان شوې قسمي پایلې په محلونو کې د کتونکو، څارونکو او استازو لخوا راټولو شوو پایلو سره توپیر ولري، کتونکي، څارونکي، استازي او نورې لېوالې ډلې کولی شي له کمیسیون څخه د وضاحت غوښتنه وکړي. دا غوښتنې به د پایلو ملي مرکز اداري ډلې لخوا څېړل کېږي. همدارنګه دوی کولی شي خپل شکایتونه د ټاکنېزو شکایاتو خپلواک کمیسیون کې ثبت کړي.

د ټاکنېزو شکایتونو خپلواک کمیسیون به هم د لومړنیو پایلو نقلونه ترلاسه کوي. که په کومه برخه کې د ټاکنېزو شکایاتو کمیسیون د پوښتنې لري او یا د شکایاتو د څېړلو لپاره معلوماتو ته اړتیا ولري نو موضوعات د پایلو مرکز اداري ډلې ته لېږل کېږي.

## د ټاکنو خپلواک کمیسیون غړي

**لومړنۍ پایلې یوازې هغه مهال اعلانېږي چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د غړو لخوا تایید شي.** د ټاکنو خپلواک کمیسیون غړي به هغه ټاکنې تاییدوي چې دوی یې سمې بولي او د پایلو ملي مرکز اداري ډلې ته لارښوونه کوي چې د هغوپایلو په اړه لازمې څېړنې وکړي چې لا تایید شوې ندي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د غړو د تایید وروسته، د پایلو ملي مرکز اداري ټیم د پایلو ملي مرکز تخنیکي ډلې ته اجازه ورکوي چې پایلې د اعلانولو لپاره چمتو کړي.

د ولسمشریزو ټاکنو لومړنۍ پایلې د ټاکنو له ورځې څخه تر ۱۹ ورځو پورې اعلانېږي، همدارنګه د ولایتي شوراګانو د ټاکنو لومړنۍ پایلې د ټاکنو له ورځې څخه تر ۴۲ ورځو پورې اعلانېږي.

## د پایلو اعلان

**دواړه لومړنۍ او وروستۍ پایلې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رسنیو په مرکز کې اعلانېږي.** پایلې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکل شوي شخص لخوا اعلانېږي. د پایلو د اعلان وروسته، نومورې پایلې د رسنیو په مرکز کې استازو، څارونکو او رسنۍ ته وېشل کېږي.

## لومړنۍ پایلې

وروسته لدې چې ټولې رایې وشمېرل شي او ټولې څېړنې ترسره شي، د ټاکنو خپلواک کمیسیون لومړنۍ پایلې تایید او اعلانوي.

یواځې د ټاکنېزو شکایاتو خپلواک کمیسیون د راپور او څېړنو وروسته د ټاکنو خپلواک کمیسیون د هرو ټاکنو وروستۍ پایلې اعلانوي.

د ولسمشریزوټاکنو وروستۍ پایلې د ټاکنو له ورځې څخه تر ۳۹ او د ولایتي شوراګانو د ټاکنو وروستۍ پایلې د ټاکنو له ورځې څخه تر ۶۳ ورځو پورې اعلانېږي.

## د رسنیو مرکز کې د شمېرو خپرول

د رسنیو مرکز په ستره کوټه کې چې کمپیوټر ولري کوم چې شمېرنې د پروسې منظم معلومات څرګندوي. پدې معلوماتو کې به لومړنۍ تایید شوې پایلې او د پایلو ملي مرکز دعملیاتو پرمختګ شامل وي.

د محلونو لومړنۍ پایلې به د رسنیو مرکز د کمپیوټر او د پایلو په ملي مرکز کې ښودل کېږي.

نوموړې پایلې به د ټاکنو خپلواک کمیسیون د غړو د تایید وروسته تجدید او د رسنیو په مرکز کې اعلانېږي.

د پایلو په ملي مرکز او د رسنیو په مرکز کې ټولې څرګندونې او د رسنیو په مرکز کې د هغوی کاغذي نقلونه په واضح ډول په لاندې لغتونو په نښه شوي وي:

«لومړنۍ پایلې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون لخوا تایید شوي، خو د وروستیو تصدیقونو دمخه د قانون له مخې د اعتراضونو تابع دي».

وېبپاڼه: د ټاکنو خپلواک کمیسیون په اساسي ویبپاڼه کې به د ټاکنېزو پایلو یو لېنک (اړیکه) اضافه کېږي. پایلې به د رسنیو په مرکز کې د اعلان وروسته په منظمه توګه نوي کېږي.

## د شمېرنې پروسې مشاهده

د پایلو ملي مرکز به د کاري ساعتونو پرمهال د استازو، څارونکو، کتونکو او رسنۍ په مخ پرانیستۍ وي. د شمېرنې د پروسې د پیل دمخه به استازي،څارونکي او رسنۍ د پایلو ملي مرکز ته بلل کېږي ترڅو د پایلو ملي مرکز د فعالیت د څرنګوالي په اړه ورته معلومات ورکړل شي.

د پایلو ملي مرکز د کوچنیوالي له امله د استازو، څارونکو او رسنۍ استازو په شمېر محدودیتونه شته چې په یو وخت کې د پایلو ملي مرکز ته د ننوتو اجازه ورکول کېږي.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون بهرنیو اړیکو ریاست د پایلو ملي مرکز اداري ډلې سره په ګډه یو معلوماتي کتابچه د پایلو ملي مرکز د کار د څرنګوالي په اړه د لیدونکو لپاره برابره کړي.

که چېرې دټاکنو خپلواک کمیسیون لخوا اعلان شوې قسمي پایلې په محلونو کې د کتونکو، څارونکو او استازو لخوا راټولو شوو پایلو سره توپیر ولري، کتونکي، څارونکي، استازي او نورې لېوالې ډلې کولی شي له کمیسیون څخه د وضاحت غوښتنه وکړي. دا غوښتنې به د پایلو ملي مرکز اداري ډلې لخوا څېړل کېږي.

## مهالني جدولونه

پدې بهیرکې هغه موده شامله ده چې د پایلو ملي مرکز کې دمحفاظتي کڅوړو د ترلاسه کولو له ورځې څخه پېل او د معلوماتو د ثبت بهیر او پایلوتصفیې تر پای پورې ادامه لري. دا موده د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون په کار کې شامله نه ده.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د پایلو د اعلان د وخت د ټاکلو ځانګړی صلاحیت لري او په دې لاربنود کې ټول مهالوېشونه د پایلو ملي مرکز فعالیتونه او طرزالعمل، د تغیراتو تابع وي.

د ناتایید شوو پایلو د سموالي په اړه شکایتونه خپاره شوي، د رسیدګي په موخه د ټاکنېزو شکایتونو خپلواک کمیسیون ته راجع کېږي. دا شکایتونه باید د پایلو له اعلان څخه وروسته تر ۷۲ ساعتو پورې ثبت شي. د جمعې ورځې پدې ۷۲ ساعتو کې نه حسابېږي. د ټاکنېزو شکایتونو خپلواک کمیسیون کولی شي له ۷۲ ساعتونو وروسته د شکایتونو او اعتراضونو د منلو په اړه پرېکړه وکړي.

## Annex 1 – National Tally Center Process Flow




* Additional Investigations or queries for any stage of the process that might be required can be initiated by the NTC management Team

## Annex 2 - Document Flow of Tally Reports



## Annex 3 - Tally Center Physical Layout

